PULMONARY DISEASES DUE TO NON TUBERCULOSIS MYCOBACTERIA

ومخه د دې ګروپ په باره کې لنډه یادونه شوې وه ، دې ګروپ
مایکوباکتریا ته یې څنوا UNCLASSIFIED ، OPPERTUNIST ،
SAPROPHYTE ، ANNONYMUS ، ATYPICAL
ویل ، مګر وروسته څرګنده شوه چې دوی هم د ناروغۍ سبب
ګرځي او په لاندې څلور ګروپونو ویشل شوې دي .

PHOTOCHROMOGEN : که د مکروب کرنغې
(CULTURAL MEDIA) په تورتم کې وکتل شي ، نو کالونی
یې هیڅ رنګ نلري ، خو په رڼا کې زېړ نارنجي رنګي سبکاري .
MYCOBACTERIUM KANSAI له دې ډلې څخه
دی چې د سږو د سل په ډول ناروغي منځ ته راوړي او په شپږو
اونیو کې او سپږي او په خاورو کې نشي او سېدلی .
SCOTOCHROMOGEN : کالونی هم په تورتم او هم په
رڼا کې رنګ ورکوي چې رنګ یې زېړ ، نارنجي یا سور دی .

- M. SCROFULACEUM له دې ډلې څخه دی.
دغه ډېر د لمفاوي غوټو التهاب منځ ته راوړي، چې SCROFULA بلل کېږي.

- NONPHOTOCHROMOGEN : په رڼا او تورتم دواړو کې رنګ ورکوي.
M. AVIUM INTRACELLULARIS په دې ډلې پورې اړه لري هم په سږو او هم په لمفاوي غوټو کې د ناروغۍ سبب ګرځي.

RAPIDLY GROWER : په کرنځۍ کې ډېر چټک وده کوي.

پورتني ټول ذکر شوي ګروپونه په زیات SUB ګروپونه لري چې د لته پرې بحث نه کوو.
د ذکر شویو ګروپونو په واسطه منځ ته راغلي توبرکلوزیک ناروغۍ لاندې اوصاف لري.

۱- که مساعده زمینه موجوده وي ناروغي منځ ته راځي، مثلاً ناروغ له پخوا څخه په COPD یا PNEUMOCONIOSIS اخته وي.

۲- ډېره شدیده ناروغي منځ ته نه راوړي.

۳- عموماً UPPER ZONE په آفت اخته کېږي.

٤- راديولوجيک منظرې کرونيک توبرکلوز ته ورته وي.

٥- پرته له سږو او لمفاوي غوټو د بدن نور غړي په مرض اخته کولی شي.

٦- يوه دوره تداوي يې په دوه کلنه موده کې بشپړېږي.

٧- د ناروغ ISoLATION ته ضرورت نشته، ځکه چې د انسان منبع انسان نه بلکې چاپېريال دی.

٨- د ١٠٪ په شاوخوا کې په ځينو هېوادونو کې د سل سبب کېږي.


TREATMENT
CHEMOTHERAPY.
SURGICAL.
HOSPITAL
AMBULATORY.
STANDARD COURSE
12_MONTHS
SHORT COURSE
8-MONTHS
STANDARD COURSE
12_MONTHS
INTENSIVE PHASE
2_3 MONTHS
CONTINUATION
-PHASE
5-6 MONTHS.
SUPERVISED
INTENSIVE PHASE
2-3 MONTHS.
CONTENUATION PHASE
9-10 MONTHS.
INTENSIVE PHASE
2-3 MONTHS.
CONTINUOUS.
INTERMITENT.
THRICE WEEKLY
TWICE WEEKLY
SUPERVISED.

جدول «A»

TREATMENT SCHEME



PROPERTY OF ACKU

جدول «D»

ARIC
B
6.5131
LAG
299

SERIES No. 27

TUBER CULOSIS

By

DR. MOHAMMAD YOUSUF

LAGHMANI

Specialist of Chest Diseases

Published

By

Writers Union of Free Afghanistan

WUFA

Copies: 2000

توبرکولین په مختلفو میتودونو تطبیقیږي، خو
د WHO له خوا MT (مانتوتست) سپارښتنه شوی
دی، پرته له MT نه په انګلستان کی HEAP TUBERCULIN-
TEST او په امریکا کې TUBERCULINE TINE TEST
MULTIPUNCTURE نه رواج لري. دا دواړه وروستني تستونه
په شکل اجرا کیږي.

- × د MT (مانتوتست) د تطبیقولو طریقه

MT ځانله مخصوصې پیچکاریګانې لري چې د هغې په واسطه
د توبرکولین د محلول $\frac{1}{10}$ ملی لیتر د ښنګلي د بند په ښکتنۍ
خوا یعنې د مړوند د پورتنۍ برخې په INTRA DERMAL
طبقه کې پیچکاري کیږي. باید له پیچکارۍ شوي ځای څخه
وینه ونه بهیږي، که زیږې او به راووځي پروا نکوي.
څرنګه چې دا یو LATE (مؤخر) مجروی عکس العمل-
(REACTION) منځ ته راوړي نو 72 - 48 ساعته وروسته
کتل (لوستل) کیږي او دا ډول راپور ورکول کیږي:

0-4 mm پورې منفي قبول شوي دی.

4-9 mm پورې مشکوک واقعات دي.

10 mm او له دې نه زیات واقعات مثبت قبلیږي.
د لته یو ازې کلکوالی (INDURATION) اندازه کیږي.

(۱) منفي عکس العمل څه معنا لري؟ (0-4 mm)

A– وجود نه مکروب هیڅ نه دی داخل شوی.

B– مکروب داخل شوی خو تر اوسه الرژیک عکس العمل منځ ته نه دی راغلی.

(ANTEALLERGIC PHASE)

داتقریبا 8-4 او نیم پورې وخت نیسی، یعنې د مکروب له داخلید وڅخه د عکس العمل تر منځ ته راتللو پورې.

C– خپله واکسین خراب سوی دی.

D– د تطبیقولو تکتیک غلط وي.

E– لوستل او راپور غلط وي.

F– عکس العمل مثبت وي خو د ځینو ناروغیو د موجودیت له کبله او یا د بعضو ناروغیو د استعمال له خاطره د بدن مقاومت متاثر شوی او عکس العمل یې له منځه وړی دی، لکه شری، توره ټوخلې، نوري وایرسي ناروغۍ، پرمختللې سل، زړښت او نورې یو شمیر سختې ناروغۍ چې د وجود مقاومت له منځه وړي. همدارنګه ځینې دواګانې لکه CORTICOSTEROID او داسې نور.

د یا دولو وړ تکی دادی چې په هغو ناروغانو کې چې د سل ضد درملونه خصوصاً INH استعمالوي، نوموړی تست منفي کېدای شي.

(۲) مشکوك واقعات (4-9 mm) :

A ـ هغو خلکو ته چې BCG تطبیق شوی.
B ـ ATYPICAL MYCOBACTEIUM TUBERCULOSIS
C ـ NONE SPECIFIC INFECTION
D ـ د بعضې هېوادونو خلک (WEAK REACTION) ښیي.

(۳) مشبت (10 mm او یا زیات) واقعات :

په دې واقعاتو کې په وجود کې مکروب موجود دی او په (INFECTIOUS TUBERCULOSIS) دلالت کوي. کېدای شي چې د سل ناروغي موجوده وي او یا نه، هرڅومره چې عکس العمل شدید وي په هماغه اندازه د ناروغۍ د موجودیت احتمال زیات دی.

MYCOBACTERIUM TUBERCULOSIS

د MYKES چې (M. TUBERCULOSIS)
FUNGUS معنالري اخيستل شوي دي يعني MYCOBACTERIACEAE
چې د ACTINOMYCETALIS د کورنۍ څخه دي. توموړی
مکروب په ۱۸۸۲ کې د ROBERT KOCH له خوا کشف شو او د
(TUBERCLE BACLLI) په نامه يې ياد کړ، په دغه
وخت کې د KOCH د باسيل په نامه هم يادېږي. څرنگه چې په
ترکيب کې يې (LIPIDS) (شحميات) زيات دي نو د
GIEMSA د تلوين په واسطه يې رنگول (تلوين کول) مشکل
دي. اوس زياتره د تلوين له پاره د ZIEHL NEELSEN
له ميتود څخه استفاده کيږي.

توموړی مکروب 0.5 Mmm پلن او 4Mmm په شاوخوا
کې اوږد والی لري. د کوچنی ROD (نخښې) په شکل او يا
منحني وي. که د ZIEHL NEELSEN په ميتود رنگ شي،
نو تر مايکروسکوپ لاندې خپله مکروب سور او دلم ځمکه يې آبي
ښکاري. هغه وخت چې FCIS CHIC IN په مکروب ونښلي

نو د قوي تېزابو او الکولو په واسطه نه لري کېږي. نو له دې کبله
ورته ACID-O-FAST باسیل وايي چې په لنډو ډول A.F.B
ليکل کېږي. د دې مکروب په ترکيب کې يو شمېر ذريات مسوا د
موجود دي چې هر يو يې خاصه دنده لري، بعضي يې د
VIRULANCE ، ځينې يې د ANTIGEN ، بعضي يې د
METABOLISM ، بعضي يې بو دي او نشونما او ځينې
يې د حجروي عکس العمل وظيفه په غاړه لري. د دغه مکروب
(EXOTOXIN) او ENDOTOXIN بيا د ـــ
(EXTRACELLULAR) انزايم نه افرازوي. بعضي د
حجروي ديوال د ليپد ترکيب تاثير د نسج او مايکرو انکشاف
د مبارزې په لړ کې IMMUNE REACTION د ناروغۍ په مخ
تللو کې اغېزه لري.

تر اوسه پورې د 43 په شاوخوا کې انواع (SPECIES)
يې پېژندل شوي چې ټول يې ځای په ځای OBLIGATE PARASITE
(SAPROPHITE) او (APPERTUNIST)
ويشل کېږي چې MYCOBACTERIUM TUBER. په لومړي
ګروپ پورې OBLIGATE PARASITE پورې اړه لري، همدارنګه
MYCOBACTERIUM LEPRA هم په دې ګروپ پورې
اړه لري. MYCOBCATERIUM TUBER.. د فقاريه حيواناتو
په TYPE او سړې وينې لرونکو انسانو ويشل کېږي چې
د فقاريه په TYPE ، HUMAN TYPE او BUVINE TYPE

او AFRICAN TYPE او دوه نسوري گروپونه چې
SOUTH INDIAN په نامه یادیږي اړه لري، چې دا
دواړه وروستني تیپونه د HUMAN تیپ —
SAPROPHITE، APPERTUNIST او ... دي. VARIENT
MYCOBACTERIUM OTHER THAN TUBERCULOSIS بیخایه
ATYPICAL UNCLACIFIE NON په نامه یادیږي چې ... د
PATHOGEN او داسې نور وبیه ... ENDOMORAS
(CULTURE) د M.TUBERCULOSIS د کرل
له پاره دوه ډوله جامد او مایع وسطونه (MEDIUM) استعمالیږي
چې مهم یې د LOEWENSTEIN JENSEN وسط دی.

د ZIEHL NEELSENS طریقه: دا لاندې مرحلې لري:

1- SPECIEMEN یعنې د خراشکو شړنه اخیستل.
2- FIXATION.
3- COLORIZATION
4- DECOLORIZATION
5- د لم د څنګې د تحول

(1) د بلغم (خراشکي) د معاینې له پاره پر مناسب مقدار چې
د رنګ یې زیاتره د شین بخن وي، اخیستل کېږي او باید لږ تبیت
شي بیا یې FUCHICIN وا چول شي او د الکول به لبې

حرارت ورکول کېږي ، ترڅو چې بخار تري پورته شي ، څو ځله خو ښکول کېږي او بیالم په اوبو پرېمنځل کېږي او تري الکول او اسید پرې اچول کېږي ، بیاهم په اوبو پرېمنځل کېږي ، او بیاهم METHYLINEBLUE ورباندي اچول کېږي چې دغه حاضر شوي لم ته SMEAR ویل کېږي او دغه تر میکروسکوب لاندې د OIL IMMERSION GLASS په ذریعه لیدل کېږي او په لاندې ډول راپور ورکول کېږي ؛

منفي (-) ، + ، + + او + + +

د دې لپاره چې په DIRECT MICROSCOPE باندې توبرکلوز باسیل ولیدل شي باید په یو ملي لیتر M بلغم کې لږ تر لږه 5000 باسیلونه موجود وي . کله کله باسیل موجود وي اما نتیجه په غلطۍ سره منفي وي چې دې ته کاذبه منفي (FALSE NEGATIVE) نتیجه وایي ، او سببونه یې په لاندې ډول دي :

A – د معاینې لپاره له خولې څخه بله نمونه نه وي اخیستل شوې .

B – نمونه په لم کې ښه نه وي اواره شوې .

C – په MICROSCOPE باندې ښه نه وي لټول شوې .

D – د معاینه کوونکي په سترګو کې تکلیف وي .

E – یا بلغم په لازم وخت کې معاینه نشي او ډېر وخت پرې تېر شوی وي .

F – بلغم د لمر وړانګو او یا (RADCATION) خصوصاً ماوراء بنفش ته ښکاره شوی وي .

G ـ یا د بلغمو په cup باندې غلط LABEL شوی وي او یا راجستر غلط وي ، کله کله په بلغمو کې مکروب موجود نه وي اما ځواب مثبت راځي چې دې ته PSUEDO POSITIVE وايي او د لاندې اسبابو له خاطره منځ ته راځي :

A ـ بعضي مواد

B ـ MYCOBACTERIUM OTHER THAN TUBERCULOSIS

C ـ FIBRES AND POLLENTC

D ـ دلم د جوړولو په وخت کې د رنګ د لیکو پاتې کېدل .

E ـ د انتقالولو په وخت کې د بل چا د بلغمو ذریعه CONTIMINATION

F ـ یا زیات سلایډونه چې د رنګ له پاره په یو ځای ایښودل شوي وي .

G ـ یا د معاینې نه وروسته OIL IMMERSION GLASS نه وي پاک شوی .

H ـ یا په عین کاغذ څو ځله پاک شوي وي او یا سلایډونه څو ځله استعمال شوي وي ، نو باید لم د یو ځل استعمال نه وروسته له منځه یوړل شي او بیا استعمال نه شي .

د ZIEHL NEELSEN میتود د کمښت په لاندې ډول دي :

عین میکروسکوپ د نورو روښی معاینات له پاره هم استعمالیدلی شي نو اقتصادي ګټه لري ، او استعمال یې هم اسان دی . په دې میتود کې بلغم په استقلالو سره کېږي او یا د HEMOGENIZATION نه وروسته

DIRECT MICROSCOPIC معاینه کېږي ، په پرمختللو
مرکزونو کې د FLOURESCENCE MICROSCOPY میتود
استعمالېږي.

څرنګه چې مخکې وویل شول چې MYCOBACTERIA په دوه
ډولونو یعنې TYPICAL او ATYPICAL مایکوبکتریم
توبرکلوز نه وېشل کېږي او د دغه ATYPICL شکل یې یا د
(APPERTUNIST) او یا (SAPROPHITE) ګروپ
پورې اړه لري . کله کله تا روغ د کلنیکي او راډیولوژیکي
معاینا تو له نظره په توبرکلوز اخته ثبت کېږي ، خو په بلغم کې یې
مکروب نه موندل کېږي ، او یا مکروب موجود وي خو د تداوي
په واسطه له منځه نه ځي او د TYPE تعیینول لازم وي . په پورتنیو
صورتونو کې د بلغم له کلچر څخه استفاده کېږي . په کلچر کې
M.TUBERCULOSIS د ودې له پاره له څلورو څخه تر شپږو
اوونیو پورې وخت لازم دی او لنډ تر لنډه باید اته (8) اوونۍ
انتظار وکړل شي چې د کلچر نتیجه که منفي وي راپور ورکړل شي
څرنګه چې M.TUBERCULOSIS ورو - ورو وده
کوي نو د SLOWER GROWTH ګروپ په ډله
کې داخلېږي او M.OTHER THAN TUBERCULOSIS
ډېر ژر وده کوي یعنې حتی د کلچر په څلورمه ورځ وده
شروع کېږي او هم کلچر کې رنګ لرونکي کالونۍ جوړوي . له
کبله یې پر څلورو ګروپونو وېشي :

لومړی : PHOTOCHROMOGEN

دوهم : SCOTOCHROMOGEN

دریم : NON PHOTOCHROMOGEN

څلورم: RAPIDLY GROWER

چې موضوعي څلور ګروپونه د

RIUNYON - I

RIUNYON - II

RIUNYON III

او IV RIUNYON په نومونو هم یادیږي.

کله د بلغم په دایرکت مایکروسکوپیک معاینه کې A.F.B مثبت وي نو کلچر کې وده نکړي او د لاندې سببونو له امله پیدا کیدای شي:

A: مایکروسکوپیک معاینه کې به مایکوباکتریوم لیدل شوي وي.

B: په کلچر میډیا کې ښه کرل شوي نه وي.

C: ممکن لیدل شوي A.F.B ښه نه وي یعنې ضعیف وي.

بسم الله الرحمن الرحیم

سریزه (INTRODUCTION):

د سل یا نري رنځ ناروغي د هغو ناروغیو له ډلې څخه ده چې له ډېرې پخوا زمانې راهیسې پېژندل شوې ده. د هندیانو په مذهبي کتاب کې له دې رنځ څخه په لسانه توګه یادونه شوې ده. د مصر مومیایي شویو فرعونیانو د ملا د تیر په هډوکي کې داسې نښې نښانې لیدل شوې چې د هغوی د سل ناروغۍ ته ورته والی لري.

پخوا له دې چې د ناروغۍ میکروب وپېژندل شي، د تجربو په واسطه څرګنده شوې وه چې دا یوه میکروبي او ساري ناروغي ده. په ۱۸۸۲ عیسوي کال کې رابرټ کوخ، د سل د ناروغۍ میکروب د لومړي ځل له پاره وموند.

د سل ناروغي ساري ده، نه ارثي. ماشومان چې د سل په ناروغۍ اخته میندو څخه زېږي تر راځي روغ رمټ وي او د هغو ماشومانو سره کوم توپیر نه لري چې له روغو میندو څخه دنیا ته راځي.

BCG

((BACILLE-CALMETTE GUERIN))

څرنګه چې د CALMETTE - GUERIN له خوا نوموړی واکسین جوړ شوی نو ځکه په دې نوم یاد شول. نوموړو مؤلفینو د BOVINE TYPE باسیل څخه د لومړي ځل له پاره د واکسین جوړ کړل. دا اوږد دې موده کې له پاره یې باسیل له یو کلچر نه بل کلچر ته او همدا سې په پرله پسې توګه نقل (تزریق کړل). تقریباً: (13) کالونو په اوږدو کې داسې مکروب لاس ته راغی چې VIRULANCE یې له لاسه ورکړې وه او د ANTIGENIC خاصیت یې درلود او په همدې توګه ثابت وساتل شو او د VACCINE په شکل یې ترې استفاده وکړه.

د سل نه د مخنیوي په هکله په هغه چا کې چې PPD منفي وي او د انسان له منبع سره په تماس کې وي. لکه هغه ماشومان چې مور یې په سل اخته او په بلغمو کې یې د سل مکروب موجود وي. همدا رنګه پرسونل په خانګړي توګه هغه چې نوي شامل شوي وي، لکه نرسان، مستخدمین او ستاژر ډاکټران. همدا راز د شکري ناروغان چې PPD یې منفي وي یې باید BCG ورته تطبیق شي.

د سل د ناروغۍ سره د مبارزې په ترڅ کې په نړیوال سیمینار کې چې د هندوستان-

د صد راس په بنارکې د تش دا خبره په ډاګه شوه چې د B.C.G واکسین
د سل سلنه وقایه د ځنیو له پاره نو پر اغېزمن نه دی ، بیا هم که څوک
B.C.G شوی وي ، نه یوازې دا چې د ناروغۍ په ځینو پاتې به اغېزه
ولري ، بلکه که ناروغ شي نو ناروغي به یې ډېره خطرناکه نه وي .
احتمال لکه هم COMPLICATION لکه MENINGITIS او
MILLIARY TUBERCULOSIS لږ لیدل کېږي .

د B.C.G واکسین 0.1 ml د DELTOID سیمه عضله کې په
INTRADERMAL ډول په اغېزه لرلای شي ، سره له دې چې
زیات شمېر مؤلفین په دې عقیده دي چې که څوک تر میاشتو وروسته
ار واکسین شي و پېښه یا نقص نه دی ، بیا هم کله کله لیدلای شو چې
شپږ میاشتو وروسته فعال شوی دی .

پخوا هیچ واکسین نه وو چې او تازه ، چې په تخنیکي واکسین به ډېر
اوږد تخنیک زیات د استعمال وړ نه وو . اوس هیچ کنګل شوی (Freeze dried)
واکسین موجود دی چې د ساتنې ګریډ له شپږ و د ډېرو (۶) میاشتو په تېښه
تر دوه ځلې ساتل کېږي ، چې تر یوه کال پورې هم ساتل کېدای شي ، باید واکسین
دا په له و په انځور کې لرې او په تر یخچال کې وساتل شي .

د یادولو وړ ټکی دا دی چې په هغو کوچنیانو کې چې د BCG واکسین
تطبیق شوی وي د LEUKEMIA د واقعات کم لیدل کېږي ، خو اوس
هم دا مسئله ډېر شمېر محققینو تر څېړنې لاندې ده .

(1)

PRIMARY PULMONARY TUBERCULOSIS

څه وخت چې د لومړي ځل له پاره د سل مکروب بدن ته داخل شي
نو تر (۴-۶) اونیو وخت پکار دی چې د سل انفکشن منځ ته
راشي. لومړنی مرضي محراق اکثراً په سږي کې وي، خو په کولمو
تانسلونو او پوستکي کې هم منځ ته راتلای شي، په یو مختلیو قبیلو
کې او به یې ازې د سږي د لومړني آفت لیدل کېږي. د بدن د نورو
غړو لومړني محراق ډېر کم دی. باسیل زیاتره له تنفسي لارې
څخه بدن ته داخلېږي، په قدوسته پاتې مواد وزرې به ځانګړې
ترګه یې مغز [illegible] کې چې لاتر اوسه شیدې پرته له پاستوریزه کېدو
او ایشېدو څخه څښل کېږي، د هاضمې جهاز له لارې هم توبرکلوز
باسیل وجود ته داخلېږي. کله چې د سل مکروب سږي ته ورسېږي
او هلته یې لومړنی آفت را منځ ته کړ دی لومړني آفت ته
GHONS FUCOUS یا CHANCRE TUBERCULOSIS وايي.
له دغه محراق څخه لمفاوي شبکې په واسطه مکروب لمفاوي غوټو ته
رسېږي او په لمفاوي غوټو کې هم آفت (LESION) منځ ته راځي چې د دغه
لمفاوي غوټې د لومړني محراق سره یوځای PRIMARY COMPLEX

یا GHONS COMPLEX بلل کیږي.

GHONS FUCOUS (لومړنی محراق) د سږي په هره برخه کې منځ ته راتلای شي، خو سطحي برخې او بالخاصه پر ... دي موقعیت لري ځکه په هغو ځایونو کې چیرته د اکسیجن فشار (PO_2) زیات وي میکروب ... کوي له هغې ځایه ... چې په سږي کې زیات آفت منځ ته راولي.

د PRIMARY COMPLEX سره راډیولوجیکي او کلینیکي بدلونونه یو ځای PRIMARY PULMONARY INFECTION بلل کیږي.

د PRIMARY COMPLEX ابتدایي آفت په تعقیب SQUEL ... ته ... کیدای شي او یا ... پرځای CALCIFICATION حتی OSSIFICATION هم منځ ته راشي. د لمفاوي غوټو آفت هم ... کیدای شي یا غوټې د BRANCH په جدار فشار راوړي او ... هم التهاب منځ ته راوړي. کله چې د BRANCH دیوال سوری کړي او د لمف التهابي مواد BRANCH ته داخل او د سږي نورو برخو ته میکروب خپاره کړي او یا BRANCH له بهر څخه چپه او تنګه یې کړي چې په نتیجه کې (ATELECTASIS) او RECURREN ... او (BRANCHIACTASIS) PNEUMONIA منځ ته راوړي.

BRANCH د MIDDLE LOBE د لمفاوي غوټو ... په ځانګړي توګه د MIDDLE LOBE د ... BRANCH تنګه ده ... زیات په ... لوب (M. LOBE) کې لیدل کیږي او MIDDLE LOBE SYNDROME ...

PROPERTY OF ACKU

او یا د BROCK SYNDROM په نوم یادېږي. کله کله چې مکروب د لمپ جریان یا دوینې بهیر ته داخل شي د سږي د داخل اعضو د بدن نورو غړیو ته لکه پښتورګي، پریتوان MENINGES او هډوکو ته ورسېږي او د هغه غړیو TUBERCULOSIS منځ ته راوړي.

کله کله د لمپ التهاب مواد چې BRONCH ته داخل شوي دي او زیات مکروب ولري په LOCAL ډول د هغه په مقابل کې الرژیک عکس العمل منځ ته راځي او په نمونیا تبدیلېږي، چې د هغه نمونیا EPITUBERCULOSIS وایي.

د ناروغۍ کلنیکي بڼه

اکثراً دغه ناروغي پټه تېرېږي او کومې ښې نښانې (اعراض او علایم) نه ښيي او تصادفاً د ایکسرې په ذریعه پېژندل کېږي. او کله یا د وسره چټک حرکت کوي چې محرقې ته ورته وي او د *TYPHO BACILLOSIS LANDOSI* په نامه یادېږي. تبه، ټوخی، د وزن بایلل یا وزن نه اخیستل (په کوچنیانو کې) اسهال، د اوړي مړو میته نه لرل، د شپې خولې کېدل، بې اشتهایي، بدخلقي او ناآرامي هغه نښې نښانې دي چې PRIMARY COMPLEX کې لیدل کېږي. زیاتره اکثراً ټوخی خفیف وي، کله کله (PAROXYSMAL) شکل لري چې په برانش باندې د

د لمفاوي غوټو د فشار له کبله منځ ته راځي.

د ناروغ په معاینه کې کله چې نه لیدل کیږي او کله ناروغ ډېر ضعیف او که کوچنی وي خوشاله نه ښکاري، د ښېښه یې ځلانده او څېره یې تازه نه ښکاري، د سږو په اصغا کې کله کله WHEEZ او CRIPITITION او ریدل کیږي.

: ERYTHEMA NODUSUM

د PRIMARY COMPLEX د سیر په دوره کې پیدا او کې لیدل کیږي. دا کومه وضعي (SPECIFIC) علامه نه ده ځکه په نورو ناروغیو او هم د پوستکي د نورو د خوړلو په وخت کې هم لیدل کیدای شي لکه HEMOLYTIC STREPTOCOCCI انتان، روماتیزم SARCOIDOSIS، COCCIDIOIDOMYCOSIS، CATSCRATCH DISEASIS، HISTOPLASMOSIS LEPROSY (جذام) او داسې نورې ناروغۍ. همدارنګ د SULPHATHIAZOL د استعمال په وخت کې هم ERYTHEMA NODUSOM لیدل کیدای شي.

E. NODUSUM د زنګنونو لاندې زیات لیدل کیږي او د پوستکي لاندې واقع دي 5-20 mm جسامت لري، شکل یې منظم نه وي، همدارنګ په وچولي، پوزه، مخ او څنګلو کې هم لیدل کیدای شي. کله کله خو غوټۍ پرځای د سیګرو د پاسه سور داغ جوړوي. د پرې او رونډ په اوږد دوره کې یې رنګ بدلیږي-

او نسواري رنګ اختیاروي، ترڅو هغه تر دوام ځای په ۲۰ - ۵۰ کلنو شخړو کې وځنیم سیر لري.

بېلوونکې پېژندنه

(DIFFERENTIAL DIAGNOSIS)

INSECT BITE : د حشراتو چیچل، HENOCH SCHONLEIN PURPURA - سره یې باید توپیر وشي، لوړ ESR او مثبت MT د ERYTHEMA NODOSUM د تشخیص سره مرسته کوي.

لنډاوی: که په راديولوجيک معاینات کې PRIMARY COMPLEX او PRIMARY PULMONARY TUBERCULOSIS موجود وي باید په ځینو پېښو کې تداوي اجرا شي او که یواځې MT مثبت وي نو یا هم یو کال تداوي غواړي.

PHLYCTENULAR CONJUNCTIVITIS : دا ټب یوازې PRIMARY تیوبرکلوز کې نه لیدل کیږي بلکه په SARCOIDOSIS او HEMOLYTIC STREPTOCOCCAL انتکشن کې هم لیدل کیږي او TB د باسیل په مقابل کې د بدن یو قسم عکس العمل دی. دا آفت یا په یوه سترګه کې موجود وي او یا په دواړو.

سترګو کې . د سترګو په LIMBUS کې یو کوچنی BLEB یا
غوټه دا افت وي چې خلاف د زیږ بخن او یا هم لا دې ریکلر چاپیره
ګڼې یې او د BLEB نه وعایي شبکې CONJUNCTIVA ته
ننوځي . تخریش ، اوښکې او PHOTOPHOBIA منځ ته راوړي .
تداوي: ATT نه برسیره په موضعي توګه یو فیصده (۱٪)
ATROPINE 0.25% او HYDROCORTISON څڅول
کیږي .

د PRIMARY COMPLEX اختلاطات

له مهمو اختلاطو څخه یې یو HEMATOGEN سرایت
دی خصوصاً MILLIARY TB او یا نور مختلف POST PRIMARY
شو بیرکلوزس منځ ته راوړي ، همدارنګه PULMONARY
OBSTRUCTIVE EMPHYSEMA ، BRONCHIACTASIA
BRONCHOCLITIS ، BRONCHITIS TUBERCULOSIS
او HEMOPTYSIA هم منځ ته راوړي .
تشخیص: د PRIMARY PUL.TB د تشخیص له پاره د سږو
ایکسرې ، ESR ، MT او د بلغمو معاینه اجرا کیږي .
کله کله په کوچنیانو کې د معایني له پاره د معدې لواژ اجرا کیږي
که PRIMARY COMPLEX په کوچنیانو کې منځ ته راغلی وي په

سن و کې لومړنی محراق مینځ ته ایسته کېږي ، مګر د لمفاوي غوټو آفت برجسته او څرګندوي او که PRIMARY COMPLEX په غټیانو کې منځ ته راغلی وي نو لومړنی محراق برجسته او ADENOPATHY برجسته نه وي .

تداوي : د PRIMARY Pul توبرکلوزس تداوي د روسته د CHEMOTHERAPY په بحث کې په مفصله توګه تشریح کېږي ، خو دلته په لنډه توګه یادونه کېږي :

په کوچنیانو کې باید ETHAMBUTOL ورنکړل شي ، ځکه چې د کوچنیانو د سترګو معاینه په اسانۍ سره نه اجرا کېږي او په مقدم ډول سره د نوموړې دوا تاثیرات نشي څرګندېدای . همدارنګه د نابالغ عمر تر دوو کالونو کم وي REMACTAN نه ورکول کېږي .

تداوي باید د INH او REMACTAN پواسطه پیل شي INH (ISONIAZIDE) پنځه ملي ګرام د بدن په یو کیلو ګرام وزن او REMACTAN (10 - 12 mg) د بدن په یو کیلو ګرام وزن ورکول کېږي .

ISONIAZIDE پرته له ځینو استثنایي واقعاتو تر 300 mg او REMACTAN باید تر 600 mg زیات ورنکړل شي . که د نابالغ عمر تر 50 کلنۍ څخه کم وي 450 mg REMACTAN ورکول کېږي او که د نابالغ عمر د 50 کلونو څخه زیات وي په یو ورځ کې تر 600mg زیات نه ورکول کېږي . که د INH په مقابل کې مقاومت موجود وي نو دریم درمل باید علاوه کړای شي .

لکه PAS .

PAS د ورځې 250 mg د بدن په یو کیلو ګرام ورکول کیږي او تر لوړو یې دوه میاشتو پورې دوام ورکول کیږي. او بیا یوازې دوه درملونو ته دوام ورکول کیږي. که تداوي د INH او REMACTAN په واسطه پیل شوې وي د 15-8 میاشتو مودې له پاره او که د INH او PAS په واسطه شروع شوې وي نو 18-12 میاشتو پورې دوام مومي او په دې ډول درملنه کې د اوږدې مودې له پاره ورکول کیږي.

پخوا له دې چې دد ې نا روغۍ درمل وپېژندل شي ، دسل
نا روغانو به يې په سناتوريمونوکې چې په هوا لرونکو او دښکلو
منظرو لرونکو ځایونوکې به جوړ شوې ول تر تداوۍ لاندې
نيول . استراحت ، ښه خوراک او ځنباک ، د ويټامينونو او معدني
موادو (منرالونو) استعمال د دوی د تداوۍ اساسي برخه
تشکيلوله . او وروسته د سږو د استراحت کولو جراحي تداوي
(collaps therapy) شروع شوه تر هغې چې (I NH)
راینو نیازید SM ، PAS اونور درملونه وپېژندل شول
او collaps therapy وروسته خپل ځای شيموتراپي ته
پرېښود .

که شيموتراپي په بشپړه توګه تطبیق شي په سلوکې (۹۵) نا روغان
شفا مومي ، پاتې نا روغان که لازم وي جراحي تداوي ته
سپارل کېږي ، چې دا کار کله ـ کله حياتي اهميت لري .

اوس په تداوۍ کې ويټامين ، معدني موادو او کوم مخصوص
رژیم ته اړتیا نشته . که ځانګړی رو غتون موجود نه وي ، او
په عمومي روغتونونوکې کومه بېله ځانګه جوړه شي ، تر څو چې
په هغې کې د سل نا روغان دېرې لنډې مودې له پاره تداوي شي
هم کفایت کوي .

دغه نا روغۍ ز مونږ په ګران هېواد افغانستان
کې د روسانو له یرغل او تېرې څخه د مخه هم ډېره لیدل کېدله

Miliary Tuberclosis

Miliary د ګدن یا جاورسي په معنی دی، ځکه دغه شکل
د Post primary Tuberclosis د سږي په X-Ray
کې ګډ نوټه ورته دی، نو له دې کبله یې دغه نوم ورکړی دی.
دغه ناروغي د هیماتوجنس له لارې منځته راځي. په کوچنیانو کې ډیره
لیدل کیږي، حتی چې که عمر یې تر یوه کاله کم هم وي.

هر هغه فکتور چې د بدن مقاومت کموي د MIL-T.B
د را منځته کولو له پاره لاره هواروي لکه: فقدان غذایي،
وخیمې ناروغۍ، ځینې دارو درمل لکه کورتیکوستیرویدونه او ویروسي
ناروغۍ، خصوصاً Measles، توره ټوخله.

د شري ویروس د تیموس غدې له لارې په T لمفوسیت
تاثیر کوي او په دغه ډول د بدن ځواک او توان له منځه وړي.
د کورتیکوستیرویدونو اغېزه د لمفاوي سیستم له لارې ښکاره کیږي.

دغه ارزن، ګدن-شکله آفت د EPITKeloid -
Langhans - Lymphocyte حجرو نه چې مرکزي
Caseation لري، جوړ شوی دی.

میلیري توبرکلوز د پرایمري توبرکلوز په تعقیب پیدا کیږي یا
ډیر وروسته له ښه کیدو نه د Post primary Pulmonary-T.B په سیر کې

منحنی ترسیمی ، له هغې کبله یې فرانسویان Hordicycle
بولي ، یعنې په هر وخت کې دا تودوخې کلک منحنی راتلای شي .

د هغه جاروسي تودوخې کلوز په سر کې لیدل کیږي خو په پلو د ا ،
پرېتوان ، سحایا ، بدوجهي . . . ټیکې کې هم لیدل کیږي ، اوس
جاروسي تودوخې کلوز لږ لیدل کیږي ځکه چې B.C.G تطبیق کیږي .
په وخت Post Primary Pulmonary او Primary Tuberculosis
سره تشخیص اوقد اوي کیږي ، بې ځایه کرد تیکو سیتروئید نه ورکول
کیږي . د شري و اکین اوس رواج لري ، غذا ئي فقدان کم
شوی ، د ژوند انونو وضع ښه شوې ده ، البته زموږ په مهاجرو کې دا
حالت معکوس دی .

کلینیکي بڼه :

Mil-TB کلاسیک سیر لري ، ناروغي کله ورو او کله ناڅاپي
پیل کیږي . تبه په یو شمېر زیاتو پېښو کې لیدل کیږي ، او د حرارت
درجه ژر - ژر بدلیږي ، کله نا ساف شکل لري . د ناروغي په ورستیو
شپو ورځو کې ټوخی ، ساه بندي Cyanosis هم لیدل کیږي .
په کوچنیانو کې Hepatomegaly او Splenomegaly 5% موجود وي .
هم لیدل کیږي . په جاروسي سل کې ډېره مهمه نښه په سترګو کې
Choroidal Tubercle دی ، غټوالی یې د optic Disc
څلورمې برخې سره کم وي ، په شروع کې ژېړ خړ رنګ لري
میخ یې سپین وي ، او دسته هوار شي ، عموماً یې دانه او کله -

دوه دانې وي، نادراً څو دانې هم وي. د تشبيه له پاره يې پښنګک ته توسع ورکول لازم دي، بايد بې حسي ورکړل شي.

X-Ray:

جاروسي سل عموماً دواړه سږي نيسي، که څه X-Ray کې هيڅ نه ليدل کېږي. 1-2 mm قطر لري، تر 5-10 mm پورې هم رسېږي. د Primary او يا Post-Primary-Pul-T.B بعتا يا هم ليدل کېږي، د پاو را عکس العمل هم کېدای شي موجود نه وي.

د X-Ray بدلون لږ تر لږه تر درې مياشتو پورې دوام کوي، په وسطي ډول 3-4 مياشتو لپاره، تر يو کال پورې دوام کولای شي، که افت RETICULER شکل ولري او د

LYMPHANGITIS RETICULARIS TUBERCLOSIS	نوم اخلي	په وينه کې د تو زال لوکريت تدنيول LEUKOIDE عکس العمل پورې اړه لري.

تشخيص:

Choroid Tubercle: لوړه تبه - جاروسي منظره په سږو کې په سترګو کې د تشخيص له پاره مرسته کوي. MT(+) وي که (1-1 هم دي په وانګرې. په بلغم کې A.F.B عموماً (+) وي - غير توبرکلوزيک جاروسي منظره که - Streptococcus -

Staphylococus او Myoplasma له خوا مینځ ته راځي ، W.B.C – D.L.C – (M.T) د تشخیص له پاره مرسته کوي. که Streptococul Pneumonia اشتباه وشي د لنډې مودې له پاره Penicilline او که Myoplasma نمونیا اشتباه وشي د لنډې مودې له پاره Tetracyclin او یا Erythiomycin – ورکول کېږي او پله پسې دوې اوونۍ X-Ray اجرا کېږي ، که توبرکلوزیک نه وي نو X-Ray کې آفت پاکېږي ، که چا یو سې لاړ ن Surcoidosis پورې اړه ولري MT منفي وي ، بلغم کې A.F.B منفي وي.

تداوي:

که تشخیص قطعي وي ، نو شیمو تراپي شروع کېږي ، که تشخیص قطعي نه وي نو تداوي کې Streptomycin او – Refampicin – نه ورکول کېږي ، بیا ځې P.A.S او I.N.H ورکول کېږي . په مشکلو حالاتو کې کورتیکو ستروئید هم نه ورکول کېږي . د شیمو تراپي دوره نه میاشتې ناروغان اکثره په څو هفتو کې مړه لیدل کېدل.

Lymphangitis Reticularis سره عواقب نه لري ، په قطعي تشخیص کې شیمو تراپي نه بر ته کورتیکو ستروئید هم دېرې چټکې مودې له پاره ورکول کېږي.

PLEURAL EFFLUSION :

د پلورا آفت یا د ورېځې له لارې په مستقیم ډول یا له سږي څخه پلورا ته ورد سرایت کوي، که پلورا کې مایع تولید نشي ورته DRY PLEURITIS وایي او که په پلورا کې مایع تولید شي ورته PLEURAL EFFUSION منځ ته راشي، ناروغ تبه لري، د سینې درد لري، که مایع ډېره وي نفس تنګی هم لري.

تشخیص په X-Ray او فزیکي معاینې سره کېږي، مایع که موجوده وي باید خارج شي، د مایع کې مجهوري معاینه د A.F.B له پاره کښت او مایکروسکوپیک معاینه L.D.H یا پروټین په وینه او مایع کې د پروټین اجرا کېږي، د پلورا (B I O P S Y) اوس هر ځای رواج لري، د دې لپاره مشهوره ستني او د ABRAM'S د پلورا BIOPSY له پاره استعمالېږي، خو د ABRAM'S ستنه تر ټولو زیاته استعمالېږي.

تداوي: په شپږو میاشتو کې د سږي د توبرکلوز د درملو تداوي کوله سره ورکول کېږي.

Local تخنیک د پلورا د مایع ایستل اجرا کېږي او هم ORAL کورټیزون ورکول کېږي او که د تنفس وړتیا نه ښه کېږي DECORTICATION هم اجرا کېږي، که مایع د تنفس تنګسه سبب شوي وي تخلیه کېږي، که شپږو میاشتو کې د کورټیکوسټیروئید او تنفسي تمرینونه پخپل وخت سره و نشي نو پرته د نتیجې د ښه والي ناروغ ته ګټه ورکوي.

LYMPH NODES TUBERCLOSIS

لمفاوي غوټې د بدن په هرځای کې تیتې پرتې او خو زیاتې یې وی،
غاړه، تخرګ، سپږمې، منصف او RETRO PERITON
ناحیه کې پرتې دي، د لمفاوي غوټو التهاب LYMPH ADENITIS
ویل کیږي او په درې ډوله دی:

ACUTE LYMPH ADENITIS -1

CHRONIC LYMPH ADENITIS -2

NEO PLASMA - LYMPH ADENITIS -3

په دې ډله کې یا په هیوادونو کې توبرکلوزیک لمف ادینیتس زیات
په توبرکلوزیس یې اخته دي او هغوی ارتګه په پایله کې هیوادو
کې په ځانګړي توګه په هغه هیوادونو کې چې شیدې پرته له ایشولو
او پاستورایز PASTORISE کیدو څخه استعمالوي او دا
MYCOBACTERIUM TUBERCLOSIS BOVINE تیب او هم
MYCOBACTERIUM TUBERCLOSIS زیاتې لیدل کیږي. اما اوس
MYCOBACTERIUM TUBERCLOSIS AVIAN - او
INTRACELLUER د لیدو او پیښو سبب تشکیلوي.

په ماشومانو کې 50% اکثرا پولمونری توبرکلوز، لمف ادینیت
توبرکلوز پورې اړه لري، مګر ابتدائي توبرکلوزیک محراق
اکثرا په سږو کې وي.

د غاړې د لمفاوي غوټو سل ته (SCROFULA)

ویل کېږي چې زیات لیدل کېږي . غوږ یې طرف ویې ، یا دوه طرفه ، غټې ورې غوټې یې بل سره یوځای شي او ویلې شي یا په ابسې بدل شي او ډېر سخت سره و نښلي ، بهرته لاره وازه کړي او په دوامداره توګه ترې زوې بهېږي ، که څه هم تر تداوي لاندې ونیول شي خو په غاړه کې SCAR ښکلوي چې د ښکلا له پلوه ښه نه ښکاري .

د دغه ناروغۍ د تشخیص له پاره باید (BIOPSY) اجرا شي او BIOPSY سره وایستل شي نمونه کې میکروب د میکروسکوپ لاندې وکتل شي او یا کلچر اجرا شي ، او هم د ابسې DISCHARGE مایع د سل له پاره تدقیق شي .

پا پو پسې شوي غوږ ته کې هستولوژیک معاینه لازمه ده .

تداوي :

د شیموتراپي برسېره ویتامین D هم ورکول کېږي ، همدارنګه ابسې غټه وې او یا د تداوي په لړ کې په لمفاوي غوټو کې فیبروز منځته راشي چې نه رشف کېږي ، باید عملیات سره وویستل شي او ابسې تخلیه (DRAINAGE) شي .

د بولي تناسلي غړو سل

د دا ناروغي د سږي له لارې د ابتدائي محراق (PRIMARY INFECTION) څخه زیاتره په ښځو کې په سږو کې موجود وي. بولي تناسلي غړو ته رسیږي د مکروب د دوران له لارې څو کاله وروسته دا ناروغي شروع کیږي اولنۍ تړلې له 20 - 5 کلونو پورې وخت په بر کې نیسي. د سل تاریخچه آفت د پښتورګو قشر کې ځای نیسي. د قشر د خرابوالي څخه وروسته PELVIS ته رسیږي او له PELVIS څخه URETERS (حالب) ته رسیږي چې د حالب بندش او یا تنګوالي سبب کیږي چې په نتیجه کې HYDRONEPHROSIS منځ ته راځي. د حالب له لارې مثانې ته او له دې ځایه احلیل (URETHRA) ته رسیږي.

په نارینه وو کې تناسلي غړو ته د وینې د لارو څخه مکروب رسیږي.

د بولي لارې سل:

د دې غړو په تبرکلوز کې ناروغ تبه، تکرر میتانو درد او د میتیازو کولو په وخت کې سوزش موجود وي، په تشو میتیازو کې وینه راځي، خصوصاً په زیاتو پیښو کې MICROSCOPIC HEMATURIA موجود وي. د ډیر ځله د سپورغړ مرد URETRICAL قلنج وینه ملګري وي.

تشخیص :

هماچوریا او ظاهراً STERILE ادرار د سل ناروغي تائیدوي
ادرار میکروسکوپیکه معاینه او کلچر ضروري دي، همدارنگه
داخل وریدي پیالوگرافي (IVP) او کله هم CYSTOSCOPY
هم اجرا کیږي که INTA VENOUS PYELOGRAPHY نتیجه ورنکړي
د RETROGRADE PYELOURETROGRAPHY اجرا کیږي، د
تداوي د شروع کولو څخه مخکې باید د پښتورگو د ندبې هم وکتل
شي، ځکه د پښتورگي د ندبې له امله د پلان د جوړولو په باره
کې ارزښت لري.

تداوي :

ستاندارد کورس تداوي شروع کیږي، اند کورس
نه توصیه کیږي، که پښتورگي خپل وظایف نه شي اجرا کولی
نو STREPTOMYCINE او ETHAMBUTOL نه ورکول
کیږي.

د پښتورګو سل:

URETRIC تنګوالی یا په ابتدایي توګه موجود وي او یا د تداوۍ په لړ کې چې د مرض نسیج ځای فبروزنس ونیسي، مینځ ته راځي، د لته کورتیکوستیروئید هم ورکول کیږي، په شروع کې 20 mg په ورځ تیز ورلونت ورکول کیږي او تر دریو میاشتو پورې دوام ورکول کیږي، که تر شپږو هفتو پورې تنګوالی لرې نه شي، نو د Cystoscopy په ذریعه حالت ته توسع ورکول کیږي. په بعضو مخصوصو حالاتو کې د جراحي عملیاتو په واسطه د پښتورګي ایستل هم اجرا کیږي خو په دې شرط چې بل پښتورګی سالم وي. په لاندې حالاتو کې پښتورګی ایستل کیږي:

1- که انتان تکراراً مینځ ته راشي،
2- که د هایپر تنشن سبب وګرځي،
3- او یا پښتورګی خپله وظیفه له لاسه ورکړي.

د نارینه ؤ د تناسلي غړو سل:

عموماً د بولي غړو له اخته کیدو وروسته د تناسلي غړو - انتان مینځ ته راځي او پروستات، SEMINAL -VESICLE او EPIDIDYMIS مصاباً وي، درد، پړسوب او د هګۍ غوټې

اوس چې له پخوا څخه زیات د دغې ناروغۍ د سرایت له پاره لاره
هواره شوې ده ، نو د ناروغۍ PREVALANCE لا پسې ډېر
شوی دی . که پخوا ن مونږ په ټولنه کې دا ناروغي په سلو کې ـ
۱/۵٪ خپره وه اوس دغه اندازه (۲٪ـ۳٪) په ښاروځوا کې ده .
د دغې ناروغۍ د خپرېدل د ټولنې د علمي او اقتصادي بنې
پوړې هم اړه لري ، هرڅومره چې اقتصادي وضع ښه او پېسوادي
له منځه ولاړه شي په همغه اندازه دغه ناروغي له منځه ځي .
په دغه کتاب کې د سل د ناروغۍ په څېنو مهمو ټکو په ځانګړې
توګه هغه چې دا د سنیو شرایطو سره سمون خوري او د ناروغۍ په تشخیص
او تداوی کې کمه تورونه دي ، بحث او څېړنه کېږي .
د هغې وروستنۍ احصائیې سره سم چې (WHO) له خوا ـ
خپره شوې ده په نړۍ کې له (۲۰ - ۳۰) میلیونو پورې د سل په
ناروغۍ اخته وګړي شته .
په پای کې زه د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې « وفا » څخه
چې د افغانستان د مسلمان ملت د جهاد په فرهنګي سنګر کې مخلصانه
هلې ځلې کوي ، د زړه له کومې منندوی یم چې د دې کتاب د خپرولو
تکلیف یې وګاله او همدارنګه د محترم ډاکټر عبد الصمد خان
څخه منندوی یم او کور وداني ورته وایم چې د دې کتاب په ترتیب
کې یې له ما سره صمیمانه مرسته کړې ده .

په درناوي

دوکتور محمد یوسف لغماني .

موجود وي، لکه په سږو کې سوري او تیوبل هم جوړوي -
DEFERENT قناتونه هم مسدود نه پاتې کیږي .

د ښځو د تناسلي غړو سل :

FALLOPIAN TUBES او اندومتریوم زیات اخته کیږي ، د ملا درد VAGINAL DISCHARGE ، DYSPAREUNIA غیر منظم میاشتنی عادات INFERTILITY - د سپوږمۍ د ... او داسې نور شکایتونه لیدل کیږي .

د هډوکو او بندونو سل :

دغه ناروغي اوس کمه لیدل کیږي ، د ملا تیر په فقراتو او د اوږدو هډوکو په څوکو کې ځای نیسي او د هډوکو SUBPERIOSTAL برخو او له هغه ځای څخه ګاونډي نسج ته لار پیدا کوي، چې لکه COLD ABSCES جوړوي او لکه FISTULE منځ ته راوړي . همدارنګه د موټ او پښو هډوکي هم په ناروغي اخته کیږي

POTT'S DISEASE

(TUBERCULOSIS OF SPINAL CORD)

په ماشومانو او لویانو دواړو کې لیدل کېږي. د ناروغۍ په پیل
کې د ملا درد موجود وي او وروسته د ملا د تیر سوړه شکل پیدا
کېږي، همدارنګه انتان MEDIASTINUM او پلورا ته هم رسیدای
شي. په ښځو کې COLD ABSCES جوړوي. د PSOAS په
عضلو کې هم دا پیسې د منځته راتګ سبب کېږي.

GIA
بالاخره KYPHOSIS، PARAPARESIA او PARAPLE
منځ ته راوړي. د ملا تیر په سل کې هم د نوي انتاناتو په
شمول لومړی د ملا د فقرو د مخکنۍ (ANTERIOR) برخو څخه
شروع کېږي، چې د پرمختګ په صورت کې د څو فقرو جسمونه
خرابېږي، یو بل ته نږدې کېږي او د COLLAPSE سبب ګرځي.

تداوي:

دوا په درې میاشتو یعنې سټینډرډ د شیمو تراپي او یا SHORT COURSE
ترسره کېږي او ښه نتیجه ورکوي. استراحت، جاکټ پلستر او
جراحي عملیات زیات مؤثر نه دي، خو که چیرې د ملا تیر کانګ
میتو د عملیاتو هم د ناروغۍ په شروع کې د ډېره او تجربه لرونکې
جراح په واسطه اجرا شي ګټور ثابتیږي.

ABDOMINAL TUBERCULOSIS

ENTERITIS، ILEOCOLITIS او متعددی توبرکلوزیک قستونه اکثره د سږو د کهنی توبرکلوز سره یوځای لیدل کیږي په دې حالاتو کې د ناروغ وزن کمیږي، د ګیډې دردونه او اسهال موجود وي.

PERITONEAL سل: پریتوان د سل ناروغۍ د مساریقي لمفاوي غوټو سل نه د FALLOPIAN تیوب نه او همدا ډول د له لارې سرایت کوي.

اعراض: د ګیډې درد، د کولمو بې نظمي، د بطن پړسوب، د کولمو SUBACUTE انسداد، تبه، د شپې خولې کیدل او د وزن بایلل د مهمو اعراضو او علایمو څخه ګڼل کیږي.

د قطعي تشخیص له پاره د پریتوان مایع، بایوپسي معاینات چې د لاپراتومي، لاپراسکوپي او یا PERCUTANEUOUS ستنې په واسطه اخیستل کیږي او د هستولوجیک او باکتریا- لوجیک معاینات له پاره لابراتوار ته لیږل کیږي.

په ASCITIC مایع کې لمفوسیت زیات وي.

TUBERCULOUS پریکاردیت : یا پېدا یا ستین
دلمفاوي غوټي د سل ځخه په منځنۍ توګه منشاء اخلي، یا له کوم بل
محراق څخه د وینې له لارې انتان اخلي.

پریکاردیت یا FIBRINOUS او یا DRY وي یا EFFUSION
لري، شکله د پریکارد دواړه ورقې یې د بل سره نښلي او د —
CONSTRICTIVE PERICARDITIS منځ ته راوړي، د غټه
...... یا پخپله د پریکارد د دواړو ورقو په منځ کې وي او یا له ځای ونیو
غړو سره منځ ته راځي.

اعراض او علایم : نظر د PERICARDITIS پړاو ته

فرق کوي، د سینې درد، تبه، قلبي TAMPONADE لیدل کیږي
وریدي فشار زیاتیږي او شریاني فشار کمیږي او — low pulse
pressure منځ ته راځي، سیټی د ځیګر CIRRHOSIS هم منځ ته
راتلای شي، که د درې واړو یعنې پلورا، پریکارد او پریتوان
پردې په توبرکلوز اخته شي TUBERCULOSIS POLYSEROSITIS
یا CONCATOUSE ناروغي بلل کیږي.

تشخیص : د فزیکي معاینې، ECG، AME، ایکسرې ECHOCARDIOGRAPHY
او د بدن په نورو برخو کې د سل ناروغي په نښو نښانو سره وضع کیږي.

تداوي : تداوي د شیمو تراپي او کورتیکوسټیروئیډ
په واسطه اجرا کیږي. که CONSTRICTIVE PERICARDITIS

موجب دوی جراحی مداخله ضرورت ټینګ او د پر سیکار د
RESECTION اجرا کېږي.

POST-PRIMARY PULMONARY T.B:

د ثانوي ډول د اشکال ډېر خطرناک دي ، ځکه چې ډېره موده دوام کوي او په ټولنه کې ډېر اوږد دي چې ددې له پاره د سرایت منبع تشکیلوي . د TB د اشکال د ثانوي میکانیزم موضوع په واسطه منځ ته راځي :

۱- PRIMARY آفت ستنیا په POST PRIMARY بدلېږي.

۲- غیر فعال ابتدائي LESION بېرته فعالیږي.

۳- د وینې له لارې.

۴- SUPERINFECTION (له بهر څخه تازه مایکروباکتریوم سږو ته داخلیږي) چې سهواً ته REINFECTION وايي.

هستوپتالوژي:

د هستوپتالوژیکو تغیراتو په منځ ته راوړلو کې د مکروب په مقابل کې د بدن موضعي عکس العمل IMMUNOLOGIC عکس العمل ، د O_2 ، CO_2 او د وینې په جریان پوره اړه لري . د لته واکتر ته لازم دي چې په سږو کې د اناتومیک بدلون سره سم مکروب د ویشلو او د غه د بدن له منځه وړل سي.

د بېلې هستوپتالوژیک بدلون د مطالعې له پاره د RICK ، CANE ، PAGEL او همکاران خبر د نوي مراجعه وکړئ.

هستولوجیک بدلون له یوه شخص څخه بل شخص ته توپیر لري، حتی په عین تاریخ او میاشت سړي کې هم سره توپیر لریږیا،

CANETTI د سل هستولوژیک بدلون په لاندې توګه ویشلي دي:

۱- د PRE-EXUDATIVE مرحله: د انساجو د دیرال حجرو په سټړې او د وینې رګونو توسع کوي، د حجرو په منځ کې زیات شمیر د توبرکلوز باسیلونه موجود وي.

۲- د EXUDATIVE مرحله: په سیږو د حجرو د دیوال او د وینې د رګونو د توسع څخه FIBRINOUS EXUDATE هستوسیټ، PMN او لمفوسیټ منځ ته راځي او د حجرو په داخل او بهر د تل کې مکروب موجود وي.

۳- د CASEATION مرحله: په دې مرحله کې حجرات خپل اوصاف له لاسه ورکوي او تجبني شکل غوره کوي. دغه تجبني شکل د مکروب په مقابل کې د حجراتو د عکس العمل له امله منځ ته راځي.

۴- PRODUCTIVE PHASE مرحله: په دې مرحله کې ماکروفاژ حجرات وینې او هستوسیټ څخه جوړیږي او د LANGHANS په حجرو بدلیږي او عموماً د نسج په اطراف کې ځای لري، دلته لمفوسیټ هم موجود وي. فبروبلاست او EPITHELOID حجرې زیاتیږي او نوی رګونه جوړیږي.

که په دغې مرحلو کې آفت مخ په ښه کېدو وشي SCLEROSIS
او پرېنوتلو کښې له منځه تللو او خپل ځای EXUDATION ته پرېږدي
تحبات رشف شي، فبروز مخ په زیاتېدو شي او له محیط څخه
مرکز ته داخل شي، تجبني نسج هم رشف او CALCIFICATION
منځ ته راځي. مکروب په نسج کې موجود دوي که تجبني
نسج رشف نشي برانش تخلیه او کورت (کهف) بدلېږي.
د کهف په تشکل کې د مکروب او او کل نسج الرژیک عکس العمل
رول لري. د کورت څخه په ازاد دا چې مکروب له خپل شکل
سره محیط ته خارجېږي، بلکه د مکروب د وده لپاره
یو مناسب ځای دی. کله کله داسې هم کېږي چې کورت
ته هوا داخله شي او بېرته ترې نشي خارجېدای، په دې حالت
کې کورت لوېږي (CHECK-VALVE) که د برانش جدار
او دوی یې ترکونه ماوف شي BRONCHIACTASIS منځ ته راځي.
د توبرکلوز د اختلاط زیاتره په UPPER LOBE او
MIDDLE LOBE کې لیدل کېږي. کله کله برانش بندېږي
او تجبني مواد د پلورا په برخه کې جمع کېږي او د
COLD ABSCES د جوړېدو سبب کېږي.

د توبرکلوز لومړی آفت زیاتره د چپ ښي لوب ثانوي سګمنت
او د ښکتني لوب په APICAL سګمنټ کې ځای نیسي، ځکه
دلته د O_2 فشار د سږي تر نورو برخو زیات وي. همدارنګه
چې د O_2 فشار زیات وي په همغه اندازه AFB هم زیات.

لید لکیږي.

وظیفوي بدلون:

RESTRICTIVE د EMPHYSEMA او FIBROSIS منتشره او OBSTRICTIVE ټیپ وظیفوي شکل سبب کیږي چې په نتیجه کې HYPOXEMIA او HYPOXIA په خپل وار سره په عکسوي (REFLXIVE) ډول VASOCONSTRICTION او اوعیو د تقبض کیږي چې دا د PULMONARY ARTERY د فشار د زیاتیدو سبب کیږي، چې په نتیجه کې RIGHT VENTRICLE ضخامه منځ ته راځي او COR-PULMONAL تأسیس کوي.

کلینیکي منظره:

اعراض POST PRIMARY PULMONARY TUBERCULOSIS او علایم په لنډه توګه یادونه کوو:

۱- اعراض او علایم موجود نه وي او تصادفاً د اکسري په ذریعه تشخیص کیږي.

۲- سګرټ لوګی: نارو غ سګرټ څکوي او خپل لوګی د سګرټ له کبله فکر کوي، خو تصادفاً د ایسکري له اجرا کولو وروسته مرض تشخیصیږي.

۳- ځګر زکام: چې ناروغ څو ځله د زکام په شکل اعراض او علایم ولري خو ډیر وروسته ځر ګندیږي چې سل لري.

٤- نامعلومه ستړتیا ·
٥- دوزن کښېدل ·
٦- سیده بغل چې ژیات دوام وکړي او د معاینات په
ذریعه ئې پېژندل شي چې TB - PNEUMONIA دی ·
٧- د INFLUENZA په شکل چې د بېرته موده وکړي او
نه جوړېږي ·
٨- HEMOPTYSIS
٩- DYSPEPIA
١٠- د معدې د زخم له پاره ګستر چکوي شوې وي اما مسرايي
په سل مبتلا وي ·
١١- AMENORRHOEA : په ښځو کې د نورو اعراضو —
علاوه پر سره هم لیدل کېږي ·

PHYSICAL SIGNES :

د نادوغ عمر کې بېله سره له دې چې پیشرفته سل ولري
او په ایکسرې کې هم تثبیت شوې وي نه ښه وي · کله کله نا روغ
ښه رنګ ښکاري او غمجن معلوميږي · کېدای شي تبه ولري
څو که سل په پېشرفت کړي وي ابته لري چې کله کله ژر
لوېږه وي · کله د وجود د تودوخې د درجه نوسانات وي ·
نبض د تبې په اندازه زیاتېږي ·
که د سل سره PURULENT بلغم موجود وي او د ...

نو دا یې دوام کړی وي نو FINGER CULBBING
هم لیدل کیږي، نو د سل خواته فکر کیږي. که CLUBBING
مننګاره او برجسته وي او د ناروغه تاریخچه لنډه وي
نو بیا ناروغه ته فکر کیږي. لکه د قصبې CA، د سږو
ابسې او نور.

CULBBING زیاتره د سږو په ابسې، کانسر،
COPD او BRONCHIACTASIS کې لیدل کیږي.
پرته د سږو له ناروغیو په نورو ناروغیو کې هم
CLUBBING لیدل کیږي.

د سینې (صدر) په معاینه کې که ناروغي اکثر ناروغي نو پرمختللې
نه وي، څه نه لیدل کیږي.

د سینې په پورتنۍ برخه کې خصوصاً INTRASCAPULAR
ساحه کې CREPITATION ډېر اوریدل کیږي. په مزمن
شکل کې داسې فبروټیکې نښانې چې د TRACHEA یا منصف د ځای
بدلولو پورې اړه لري، لیدل کېدای شي. نادراً کله کله
اواز هم اوریدل کیږي، که چیرې موضعي RHENCHI
چې د قصبې د تنګېدلو پورې اړه لري، موجود وي.

څرنګه چې POST PULMONARY توبرکلوز اکثراً
په UPPER ZONE کې لیدل کیږي، نو فبروټیکې نښې نښانې
هم په پورتنۍ برخه کې زیاتې لیدل کیږي.

څرنګه چې د دغه نښې نښانې د تنفسي سیستم په نورو ناروغیو

اصطلاحات

Tuberc. : توبرکل وړې غوټه یا کوچنی پړسوب او یا پړقانی ته ویل کېږي .

Tuberculosi : د توبرکل جمعې ته ویل کېږي یعنې د توبرکلوز توبرکل څخه اخیستل شوېده . پخوا لدې چې د سل میکروب پېدا شي هغه ناروغان چې د سل د ناروغۍ نه مړه کېدل سږو کې به بېشماره غوټې لیدل کېدې . څرنګه چې دغه وړې غوټې تېوبرکلس ویل کېږي نو ځکه دغه ناروغۍ د توبرکلوز په نوم یادکړل شوه .

د سل ناروغي Incidence : په یوه ټولنه کې د سل د ناروغۍ نوو پېښو ته ویل کېږي

د سل ناروغي . Prevalance : په یوه ټولنه کې د سل ناروغۍ زړو او نوو پېښو ته په ګډه سره پریولاس ویل کېږي .

Mortality : په یوه ټولنه کې سل اخته ناروغانو څخه چې کوم ناروغان د دې ناروغۍ له کبله مړه کېږي یعنې د مړو شویو عدد ته Mortatily ویل کېږیا .

کې هسپتال کېږي ، څو د سل ناروغانو له پاره خاص بستر دي.
له دې کبله ایکسرې او لابراتواري پلټنې ضروري دي.

ایکسرې :

لکه څرنګه چې د نړیوال روغتیا سازمان د سل په ناروغانو کې د سینې فزیکي معاینه د ناروغۍ له تشخیص سره زیاته مرسته کوي، او X-Ray او لابراتواري معاینه خصوصاً د بلغم معاینه ضروري ده.

په پرمختللیو هېوادونو کې که په کوم ناروغ کې بیده تخریبات شوي منفي نتیجه ورکړي باید و شي ایکسرې اجرا کوي، خو له بده مرغه په وروسته پاتې هېوادونو کې د اقتصادي ستونزو له کبله باید د ایکسرې په ځای لومړی د بلغم معاینه اجرا شي.

دا چې کومه معاینه یعنې ایکسرې، بلغم یا PPD کوم یوه د مخه اجرا شي ، باید هر هېواد د خپلو اقتصادي او طبي امکاناتو سره سم یوه کړنلاره غوره کړي. په ځینو هېوادونو کې لومړی PPD اجرا کوي ، که PPD منفي وي نو یا ورته BCG تطبیقوي او یا INH ورکوي. یعنې تر پرایمري پروفیلکسس لاندې یې نیسي. البته په هغه هېوادونو کې چې د سل ناروغۍ په مبارزه کې د ERADICATION مرحلې ته رسېدلي وي باید طبعاً PPD منفي (-) وي.
په ځینو هېوادونو کې که PPD منفي وي نو دا ناروغان

يا د شخص پروفیلکسس لاندې نیسي او یا ورته BCG تطبیقوي ـ
که PPD مثبت وي باید ایکسرې اجرا شي ، که په ایکسرې
کې د سل ناروغۍ ته فکر وشي نو نور معاینات هم اجرا کیږي ،
که معاینات د سل ناروغي تائید کړي ، نو شخص تیراپي پیل کیږي
او که ایکسرې نارمل وي نو ناروغ په مطمئن ډول رخصتیږي
او څه معامله ورسره نه کیږي .

د سږې ایکسرې په ټوله تشخیص څخه نوري گټې هم لري
چې همغه په لاندې ډول دي

۱ ـ تشخیص

۲ ـ د تداوي تعقیب

۳ ـ د ناروغۍ د فعالیت (ACTIVITY) تعینول .

٤ ـ د آفت د EXTANCIBILITY معلومول .

۵ ـ د لابراتوري له پاره : مثلاً د فزیکي معاینې څخه اخیستل شوې
نتیجې د تائید یا تردید له کبله ډاکټر ته لارښوونه کوي .

خو بیا هم نورمال ایکسرې تشخیص بالکل نفي نه کوي ، مثلاً
توبرکلوزیک برانشیت چې اکثراً ایکسرې نورمال ، خو په بلغمو کې
AFB مثبت وي ، همدا رنګه کوچنی آفت پاتې شي .

له بلې خوا په یو شمیر زیاتو تنفسي ناروغیو کې لکه کانسر ، فنګسي
ناروغۍ ، PNEUMOCONIOSIS ، کولاجن ناروغۍ ، PNEUMONIA
کې د ایکسرې منظره د سل ناروغۍ ته ورته وي .

که چیرې په ایکسرې کې لاندې نښې نښانې ولیدل شي د سل خوا ته

ذکر کېږي ؛

۱- که SHADOW په پورتنۍ ZONE کې وي .

۲- PATCHY او NODULARE آفت

۳- CAVITY

٤- CALCIFICATION

۵- که په دواړو سږو کې آفت موجود وي ، خصوصاً په UPPER ZONE کې .

٦- که په پرله پسې اخیستل شویو ایکسرو کې لیژن پاک شوی نه وي .

له پورتنیو نښو سربېره بیا هم د تشخیص له پاره لابراتواري معاینات خصوصاً په بلغم کې د AFB لټول ضروري دي .

که یوازې د ایکسری په لیژن د سل د احتمال تشخیص وضع شي او تداوي شروع کړای شي ، څو میاشتې تجربه شي او سببه والی منځ ته رانشي ، په داسې پېښو کې یوازې د تداوۍ دوام او دوام به کار نه دی ، نورې ناروغۍ چې د ایکسرې منظره یې سل ته ورته والی لري ، ولټول شي .

په ایکسرې کې ځینې نکې شته چې هستولوژیک ساختمان او تشخیص یې پوره کوي :

۱- یو ځای شوی تازه SHADOW ایکړ و دیټیفې د ... او د غیر توبرکلوزیک سینه بغل سره ورته والی لري .

۲- LINEAR شکل خصوصاً که حجاب حاجز کش شوی وي او

متصف هم خپل ځای بدل کړی وی SCLEROSIS ښيي ۰

۳- که دا یکسری منظره SOLIDE شکل ولري د CASEATION
خوا ته فکر کېږی.

۴- که د کوروف جدار غیر منظم وي، تازه خالی (تش)
شوی کوروف پلو فکر کېږي او که لوی وي د CHECK-VALVE
میکانیزم ته فکر کېږي.

AREAS

۵- که خصوصاً په پورته ELONGATED TRANSLUCENT ZONE
و لیدل شي د قسباتو پر خوالي ته فکر کېږي.

۶- CON LESION که CALCIFICATION و لیدل
شي T.B فکر کېږي.

۷- د TRACHEAL او هیلر لمفاوی غوټو آفت نسبت
PRIMARY T.B ته په POST PRINARY PULMONARY TB
کانسر لمفوما (HODDKIN او SARCOIDOSIS کې ډېر
لیدل کېږی.

په ایکسرې کې د ناروغۍ د وسعت ویش

(CLASSIFICATION OF EXTENT OF DISEASE)

د غه ویش د سټاندارد ایکسرې له مخې په درېیو برخو ویشل کېږي:

۱- خفیف (MINIMAL) پرمختګ: داچې ارتشاح خپره ده او که نه؛ په یوه سږي کې ده او که په دواړو کې، خو کهف موجود نه وي او که ټول شوې ساحه اندازه کړو باید له لاندنیو حدودو څخه تېر نه شي: هغه ساحه چې د دویمې پښتۍ د CHONDRO-STERNAL ارتشاق د څلورم ظهري فقرې شوکې او یا پنځمې فقرې د جسم څخه پورته واقع وي.

۲- منځنی (MODERATELY) د بې پرمختګ: که د ارتشاح کثافت کم او یا په متوسطه اندازه وي او اندازه یې د یوه سږي له ساحې څخه تجاوز ونکړي او که ارتشاح کثیفه وي باید د سږي د نیمایي (½) څخه تجاوز ونه کړي او که کهف (کهفونه) موجود وي قطر یې باید له څلور سانتي مترو څخه تجاوز ونه کړي.

۳- ډېر پیشرفته (FARADVANCED) پرمختګ: که له پورتنیو حدودو څخه تجاوز وکړي.

لابراتواري معاینات :

لکه څنګه چې د مخه مو هم څو ځل یادونه وکړه چې د سل د معایناتو اساس د بلغمو پر ایرېکټ (مستقیم) معاینه او کله کله کلچر تشکیلوي . نادراً په هندي خوګ کې ذرقیږي . البته په پرمختللیو هیوادونو کې د بلغم فلورسینس مایکروسکوپیک معاینه هم کوي . په هره واقعه کې چې د سل اشتباه وشي باید څو ځله د بلغم معاینه تکرار شي . د بلغم د منفي (−) او مثبت (+) راپور په بیان کې بشپړ معلومات په تېر درشو پر عنوان کې لیکل شوي دي . خو د یادولو وړ ټکي دا دي چې کله نه تل بې کلونیک حادثې ناروغ یا کاذب د سل غلطي (سحفي) عراق تخریب کړي او میکروب په بلغم کې مثبت (+) شي ، او همدا رنګه په هغو واقعاتو کې چې د سل احتمال کم وي ، او د بلغمو په یوه معاینه کې AFB مثبت (+) وي باید معاینه تکرار شي .

د معدې اسپایریشن (ASPIRATION) :

کله کله مریضان خصوصاً کوچنیان او ښځې بلغم تېر وي له دې کبله باید د معدې افرازات وویستل شي او باسیل یې ولټول شي . نو معدې باسیل هم د میکروسکوپیک معاینې په واسطه لټول کېږي او کله کله یې کلچر هم اجـراء کېږي .

نادراً د لاندې طریقو په وسیله بلغم د معاینې له پاره اخیستل کېږي:

BRONCHIAL لواژ، LARYNGEAL SWAB ،
TRACHEAL اسپایریشن او د برانکوسکوپیک اسپایریشن په وسیله.

TLC او DLC پخوا ډېر اهمیت درلود، خو اوس ورته پام نه کېږي، مګر دلته یې ټکي د یادولو وړ دي او هغه دا چې که په ایکسرې کې آفت زیاته ساحه نیولې وي خو د لوکوسیټونو شمېر نورمال وي د غه آفت به په غالب ګومان د سل آفت وي.

(E.S.R) ERYTHROCYTE SEDIMENTATION RATE:

دا معاینه اوس د فرضیتي معاینې په توګه کې تعبیرل کېږي. د نورو معایناتو سره یوځای د سل د ACTIVITY د معلومولو لپاره کومک کوي. ESR د سل نه پرته په پولي و ورل انتاني او غیر انتاني ناروغیو حتی کانسر کې هم اوچت دی.

ANEMIA: په پرمختللي توبرکلوز کې کم خوني لیدل کېږي خصوصاً HEMORRHAGE باید څښ څښ څاڅکه نکس او شي، کم خوني عموماً NORMOCYTIC وي خو که HEMORRHAGE بیا بیا تکرار شوې وي HYPOCHROMIC ANEMIA منځ ته راځي

په جاری‌توګه (MILLIARY T.B) کې د وینې (DYSCRASIA) -
مختلف ډولونه لیدل کیدای شي .

ځیګر : د ینې (LIVER) وظیفوی بدلونونه هم د ناروغۍ د
(TB) او هم تداوي په دواړو پورې اړه لري . ځیګر
له دې چې په تداوي پورې یې مربوط وبحث باید په دې شي چې ځیګر
د سل په ناروغۍ پورې اړه لري او که نه ؟

د ACTIVITY تعینول :

په وروسته پاتې هیوادونو کې خصوصاً په افغانستان کې
POST PRIMARY PULMONARY تی بي کلینک چې لیدل کیږي چې
داسې واقعات باید وڅیړل شي چې آیا تداوي شي ؟ تعقیب
شي ؟ او که پخپل سر پرېښودل شي ؟ په دې معنا چې هر
هغه ناروغ چې ایکسرې یې په POST PRIMARY PULMONARY TB
دلالت وکړي باید تداوي نشي ، او سرې باید معلوم کړای
شي چې آفت فعال دی ، که مشکوک دی او یا که غیر فعال ؟
فعال آفت باید تداوي شي ، مشکوک واقعات باید تعقیب
شي او که غیر فعال وي پخپل حال پرېښودل شي ، او هیڅ
غرض ورسره نه کیږي ، ترڅو چې فعال نشي .
